مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخر ۲۰۲۵/۱۲/۱۳

# د یهودو عادلانه جګړې

(یوسل او دیارلسمه برخه)

## له اسراییلو د امریکایانو ملاتړ او لویه بیه (۸)

### پر عراق د امریکا او متحدینو لومړی یرغل: (۱۹۹۱ز)

د عراق او امریکا لومړی جګړه چې په ۱۹۹۱ز. کال کې رامنځ ته شوه، له دې کبله وه چې عراق پر خپل ګاونډي عربي هېواد کوېټ باندې یرغل وکړ او کوېټ یې د عراق برخه وباله، عراق چې د کوېټ د نیولو له کبله د تېلو په یو بډای هېواد بدلیدلی شو **او د اسراییلو د سر دښمن هم ؤ**[1] نو امریکایان، غربیان او ځینې عربي هېوادونه (چې له صدام حسین څخه په وېره کې وو) له کوېټ څخه د دفاع په نوم په عراق او کوېټ کې د صدام حسین پر ځواکونو د بریدونو لپاره د چمتو والي په درشل کې وو.

هغه مهال چې د جګړې وروستی خبرې اترې او ګواښونه لا روان وو، صدام حسین د فلسطین مسئله راپورته کړه، ویې ویل: **«که اسراییل خپل پوځونه د فلسطین له لوېدیځې غاړې، د جولان له لوړو او د غزې له تړانګې وباسي، دی به هم له کوېټ څخه خپل پوځونه په شا کړي.»** د صدام دغه وړاندیز د عربي هېوادونو ترمنځ درز رامنځ ته کړ... په پای کې امریکا او ایتلافي هېوادونو د فلسطین او کوېټ ترمنځ هر ډول تړاو رد کړ.

هغه وو چې جګړه پیل شوه، د جګړې پر مهال اسراییل هم د عراق د بالستیک (سکاډ. بی) توغندیو (چې د (الحسین) په نوم اصلاح شوي او پراختیا ورکړل شوي وه) تر برید لاندې راوستل شو، ۴۰ توغندي د اسراییلو د (حیفا) او (تل ابیب) پر ښارونو وتوغول شول[2] خو اسراییلو څه غبرګون ښکاره نه کړ، اسراییلو اجازه نه درلوده چې په جګړه کې برخه واخلي چې له امله به یې عربي هېوادونه د عراق په خلاف له ایتلاف څخه ووځي. **په دغو بریدونو کې ټول ټال نږدې ۱۳-۱۴ اسراییلیان ووژل شول او تر ۲۳۰ پورې ټپیان وو.**

صدام حسین په سعودي عربستان کې پر امریکایي پوځي پنډغالو او څو ښارونو باندې ۴۶ توغندي وتوغول چې تر ټولو زیاته مرګـژوبله هغه مهال رامنځ ته شوه چې **«د ۱۹۹۱ز. کال د فبرورۍ په**

---

[1]: صدام حسېن د اسراییلو پر ضد ډېر کلک دریځ درلود، هغه له ۱۹۸۱ز. کال وروسته څو ځله اسراییل په خپلو ویناګانو او د توغندیو په توغولو ګواښلی وو.

[2]: https://rasekhoon.net/article/show/658521


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**۲۵مه نېټه، یو (سکاډ. بی) توغندی د سعودي عربستان په ختیځ ښار (الظهران) کې د امریکا پر پوځي پنډغالي ونښت په پایله کې ۲۸ امریکایي پوځیان ووژل شول او له ۱۰۰ زیات ټپیان شول.»**[3]

**د ایتلافي ځواکونو مرکـژوبله په توله کې (۲۴۰) تنه پوځیان ووژل شول؛ (۷۷۶) تنه ټپیان او (۳۰) تنه د عراقي پوځیانو لهخوا ژوندي ونیول شول. برسېره پر دې د ایتلافي ځواکونو (۳۱) شوبلې، یوه بتریه د توپچي ځواک او (۷۵) الوتکې راوغوځول شوې.**

**د کویت هېواد (۴،۲۰۰) تنه پوځیان وژل شوي او (۱۲،۰۰۰) اسیر او (۶۰۰) کسان ورک شوي دي او له (۱۰،۰۰۰) زیات ملکي وګړي وژل شوي دي.**[4]
په دې جګړه کې د امریکا د (۷۰۰،۰۰۰) عسکرو سربېره، د ایتلاف (۹۵۶/۶۰۰) تنه عسکرو برخه درلودله.[5]

څېړونکي وايي چې دا جګړه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، د جګړهییزو توکو او متحدانو له پلوه تر ټولو لویه جګړه وه. **دې جګړې د عربي هېوادونو لپاره ۱۰ میلیارده ډالره او د امریکا لپاره ۱۸ میلیارده ډالره لګښت درلود.**

د عراق د لومړۍ جګړې کره زیانونه نه مالومیږي خو په تخمیني توګه ویل شوي چې پوځي مرګه ژوبله ډېره زیاته وه، (په ځانګړي توګه، هغه مهال چې عراقي پوځیان له کویت څخه د عراق د بصرې پر لویه لار، د شاتګ په حال کې وو) د سختو هوایي او راکټي بریدونو له امله له ډېرو وژنو سره مخ شول. دغه لویه لار د زیاتي مرګـژوبلي له امله **(د مرګ لویه لار)** وبلل شوه. بېلابېلي سرچینې وايي چې **د عراق پوځي ځواکونو تلفات شاوخوا د (۷۰،۰۰۰ او ۱۰۰،۰۰۰) تر منځ دي او (۸۰٬۰۰۰) زره پوځیان اسیر شوي دي. د عامو عراقیانو وژنې نږدې (۳،۶۶۴) تنو ته رسیږي.**

د عراق هوايي، سمندري او ځمکني ځواکونه چې ټول شمېر یې **(۶۵۰٬۰۰۰) سرتېرو ته رسیده،** سخت وځپل شول چې له امله یې ډېر کمزوري او یا په نشت حساب شول، په ځانګړي توګه، هوایي ځواکونه چې **د جګړې پر مهال (۱۱۰) الوتکې ویجاړې او (۱۳۷) جګړهییزې الوتکې د ایران هېواد ته والوتلې او هتله یې پناه واخیسته. همدارنګه (۱۹) جګړهییزې بېړۍ بمبار او له منځه یوړل شوې، (۳٬۳۰۰) شوبلې (ټانکونه)، (۲٬۱۰۰) زغروال ګاډي او (۲٬۲۰۰) د توپچي بتریې له منځ ولاړې.**
سربېره پر دې، ډېرې شوبلې او ډول، ډول ټوپونه د امریکا او متحدینو لاس ته ورغلل.
کله چې امریکایي او ایتلافي ځواکونو په عراق کې وسلې ونیولې نو یو شمېر درنې وسلې: لکه شوبلې؛ ټوپونه او دافع هوا توپونه یې په پاکستان کې مېشتو جهادي تنظیمونو ته ورکړل (چې هغه مهال په افغانستان کې د ډاکټر نجیب الله د حکومت پر وړاندې جګړېدل.) په دغو درنو وسلو کې شوبلې د تنظیمونو لپاره ډېرې مهمې وې، دا شوبلې (ټي. ۵۵؛ ټي. ۶۲ او ټي. ۷۲) ماډل روسی شوبلې وې،

---

[3]:https://www.independentpersian.com/node/36541

[4]: *"Kuwait: missing people: a step in the right direction". Red Cross. Archived from the original on 7 March 2016*. Retrieved *17 February* 2022.
[5]: *Hersh, Seymour (2005). Chain of Command. Penguin Books. p. 181.*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

جهادي تنظيمونو وکړای شول چې په لومړيو ورځو کې له دغو شوبلو څخه ښه ګټه واخلي ځکه چې هغه مهال د افغان حکومت په پوځ کې د ټانګ ضد (RPG-7) راکټونو شتون نه درلود، دوی به خپلې شوبلې پرته له کومې وېرې او خطر څخه مخامخ پر حکومتي پوستو ورخېږولې او امنيتي پوستې به يې په اسانۍ سره نيولې **او د حکومت د وژل شويو کسانو پر مړيو به يې نوموړې شوبلې تېرولې.** موږ چې هغه مهال د خوست په ولايت کې د حکومت تر څار لاندې سيمو کې اوسيدلو، دا حالت مو په خپلو سترګو ليدلی دی.

د جګړې له پای وروسته، د امريکا او عراق اړيکې همداسې په دښمنۍ ولاړې وې، د عراق د استخباراتو ادارې هڅه وکړه د امريکا پخوانی ولسمشر (بوش پلار) په کوېت کې د ليدنې پر مهال ترور کړي خو د کوېت امنيتي ځواکونو په موټر کې ځای‌پرځای شوی بم شنډ کړ چې په غبرګون کې امريکايي ځواکونو په بغداد کې د عراق د استخباراتو پر مرکزي ودانۍ توغندي وتوغول. (۱۹۹۳ز)

صدام حسين په دې جګړه کې ډېر سخت وځپل شو، ده د ادولف هيټلر په څېر، د خپلې سرتمبګۍ له امله ماته وخوړه. د عراق پياوړی پوځ يې لومړی له ايران سره په جګړه کې کمزوری کړ، بيا يې په لوی لاس د کوېت په نيولو سره، د اسراييلو ملاتړو هېوادونو، امريکا او نورو ته د جګړې پلمه په لاس ورکړه او هم يې څو عربي او اسلامي هېوادونه (چې له ده سره يې د ايران په جګړه کې ډېرې مالي مرستې کړي وې) د ځان دښمنان او د اسراييلو د ملاتړو هېوادونو په ليکه کې ودرول.

په عراق کې د صدام حسين حکومت په کمزوري حالت کې پاتې شو، عراق اړ کړای شو چې کوېت ته د جګړې غرامت ورکړي او نور سخت اقتصادي بنديزونه هم پرې ولګول شول چې له امله يې ډېرو عراقيانو، شاوخوا ۱۲ کاله په فقر او خوارۍ کې ژوند کاوه چې په پای کې د امريکايانو لهخوا د صدام حسېن د حکومت د پرځولو په موخه دويم يرغل پيل شو.

نېټه: ۲۲/۹/۱۴۰۴

**نور بيا**

د ښاغلي محمد انور اڅڼ نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ